**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د لاسونو مينځل

دريم ټولګی، لومړی سمستر، دريمه سويه



د آزمايښتي دورې مرستندوی توکي

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د لاسونو مینځل

د دریم ټولګي د دیارلسمې اونۍ لپاره

پښتو
افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان یې لولي» پروژې
په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی

لیکوال: سرمؤلف محمد سهراب دیدار

ایډیټور: د مؤلف مرستیال نصیراحمد امرخېل

انځورګره : بهشته محسني

**د تصحیح کمېټه**

**----**

اسلامي: ګل آقا شایق

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: فروزان خاموش

بسم الله الرحمن الرحیم



نَسیم له خپل کور څخه راووت.
د کور مخې ته چا کثافات اچولي وو.

نَسیم د کثافاتو په لیدلو خَفه شو. بیا یې پلوَشې او جاوېد ته غَږ کړ.

ورته یې وویل:

دا کثافات چا اچولي دي؟



هغوی ورته وویل:

پلاره! موږ نه یو خبر.

نَسیم وویل:

راځئ چې کثافات ټول کړو.

بچیانو! د کور شا و خوا باید

پاک وساتو.

دوی کثافات په کڅوړه کې

واچوَل.

بیا یې کثافت دانۍ ته یووړل.

وروسته کور ته ولاړل.

جاوېد د کوټې خوا ته روان شو.

پلار یې ور غږ کړ:

راځئ چې لاسونه په صابون

ومینځو.

جاوید وویل:

پلاره! ولې لاسونه په صابون

مینځو؟



نَسیم ورته وویل:

په کثافاتو کې میکروب وي.

میکروب انسان ناروغوي.

صابون میکروب وژني.

په کثافاتو ککړ لاسونه باید په

صابون پرېمینځو.

پلوشې او جاوېد ورته وويل:
پوه شوو، مننه پلاره.
پلار وويل:
پوهيږئ چې نور بايد په کوم
وخت کې لاسونه په صابون
ومينځو؟
پلوشې وويل:
له ډوډۍ نه مخکې.
جاوېد وويل:
له تشناب څخه وروسته.



پلار یې وویل: آفرین!
باید کثافاتو ته نږدې لوبې ونه کړئ.
له لوبو وروسته هم باید په صابون لاسونه ومینځئ.

پلوشې وویل:
پلاره! زه پوه شوم چې په کثافاتو
کې میکروب وي.
میکروب انسان ناروغوي.
جاوېد وویل:
هو، نو کثافات باید په خوندي
ځای کې واچوو.
کثافاتو ته نژدې لوبې ونه کړو.
پلار یې وویل:
آفرین! دواړه سم پوه شوي یاست.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.